# نړيوال بانک

اړيکي: په کابل کی: عبدالروف ضياء ۷۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)
برېښناليک :azia@worldbank.org
په واشنګټن کی: اريك نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)
برېښنا ليک: enora@worldbank.org

**خبری خپرونه نمبر**:SAR /۲۰۰۶

## په افغانستان کې د سوداګرۍ فضا او حالت ښه والی مومي، خو ځنډونه لا په خپل ځای پاتې دي

*نړيوال بانک راپور ورکړی چې ځمکې او برېښنا ته لاس رسيدنه د پانګه اچونې په وړاندې مهم ځنډونه دي.*

**کابل،د۲۰۰۶ م کال د فبرورۍ د مياشتې ۲۵مه نيټه** – د نړيوال بانک راپور، چې نن خپور شو، دا ټکی يې روښانه کړ چې له يو هڅوونکي پرمختګ سره سره لا اوس هم ډير ځنډونه د پانګه اچونې د ښه والي په مخ کې پراته دي. د مطالعاتو په نظر کې نيولو سره سره- په افغانستان کې د پانګه اچونې د فضا او حالت او له ناټاکل شوي چاپيريال څخه د ګټه اخيستنې په اړوند – ډير مهم ځنډونه هغه دي چې څنګه په مارکيټ کې د نويو پانګه اچوونکو برخه اخيستنه، د موجودو ځنډونو د لرې کولو او د داسې شرايطو د رامنځ ته کولو له لياري زياته کړو چې د هغه په ترڅ کې په مارکيټ کې اوسني پانګه اچونکي لا زياته پانګه واچوي.

د افغانستان په پنځو ښارونو کې د سوداګرۍ د۳۳۸ شرکتونو د سروې پر بنسټ، نوموړی راپور په افغانستان کې د خصوصي سکټور د پرمختيا په وړاندې ځينې ځنډونه تحليل او په ګوته کړي دي. هغه جدي ځنډونه چې د سروې شويو سوداګرۍ شرکتونو له خوا راپور ورکړل شوی، هغه برېښنا او ځمکې ته د لاس رسيدنې ځنډونه دي. همدارنګه اداري فساد او مالي منابعو ته لاس رسيدنه هم له مهمو ځنډونو څخه شميرل کيږي.

راپور دا ټکی څرګندوی چې د افغانستان دولت د سوداګرۍ د شرايطو د ښه والي او د پانګو جذبولو لپاره يو لړ پړاوونه رامنځ ته کړي دي. دولت د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره (AISA) چې په ځانګړې توګه د پانګه اچونې د آسانتيا او پراختيا لپاره طرحه شوې، تاسيس کړې ده. همدارنګه د مالي سکټور، د کار د مقرراتو د پلي کولو تطبيق او مالياتي ريفورمونو په برخه کې د پاملرنې وړ پرمختګونه شوي دي.

ښاغلي ژان مازورل، د افغانستان لپاره د نړيوال بانک د دفتر منيجر داسې وويل: دولت د پانګه اچونې د ښې فضا او حالت د رامنځ ته کولو لپاره يو لړ مهم فعاليتونه ترسره کړي دي، خو لا تر اوسه زيات کارونه پخپل ځای پاتې دي، چې بايد ترسره شي. د خصوصي سکټور فعاليتونه لا اوس هم په داسې چاپيريال کې ترسره کيږي چې د غيررسمي پروژو له خوا را ښکليل او تسخير شوی دی. دغه ترتيبات ښايي د ډيرو پانګه اچوونکو لپاره په لنډ مهاله شرايطو کې ګټور وي، خو په اوږد مهاله شرايطو کې به پر پانګه اچونې باندې منفي اغيزې ولري.

د اقتصادي فعاليتونو په سلو کې له۸۰ نه تر۹۰ پورې غير رسمي بڼه لري او باالقوه پانګه اچوونکي چې له بانفوذه خلکو سره يې اړيکې نه دي ټينګې کړې، په دې خبره پوهيږي چې دغه ترتيبات زړه تورونکي او په ډيرو حالاتو کې په پانګه اچونه کې د ناهيلۍ او مايوسۍ سبب ګرځي.

د دې لپاره چې د خصوصي سکټور وده ګړندۍ شي، راپور د اجرااتو لپاره د څلورو کتګوريو سپارښتنه کوي:

۱. **ونډه اخیستنو ته د لاس رسیدنې ښه والی**: د سوداګرۍ خونې یا شرکتونو د تولیداتو د ځینو عواملو، لکه: فزیکی او مالي آسانتیاوې، ځمکې، کار پوه هانو او ماهرو کارکوونکو او همدارنګه ښستیز جوړښتونه، لکه اوبه، مخابرات، سړکونو او بندرونو ته اړتیالري.

۲. **د پانګه اچونې په برخه کې د منظم حقوقی** او قضايي چوکاټ د رامنځ ته کولو له لیارې ، د جایدادونو د حقوقو وده او پیاوړې کول.

۳. **د معلوماتو د بهیر ښه والی**: کله چې مارکیټ لرونکي دمارکیټ دفرصتونو، حالت او کړوړ، د تولیداتو د څرنګوالی، د منابعو د شته والي، د د ولت د پالیسیو او مقرراتو په هکله معلومات ونلري ، نو هغوی معلومات د غیر رسمی منابعو څخه تر لاسه کوي او پر هغوی پورې تړاو پیداکوي.

۴. **د سوداګریزو خدمتونو د تدارکاتو ښه والی**: دولت باید یوه منظمه پالیسي او چوکاټ را منځ ته کړي، ترڅو د خصوصي پانګه اچوونکو لپاره آسانتیاوې برابرې شي.

راپور وایي: په داسې حال کې چې افغانستان د خصوصي سکتور د پانګه اچونې د چټکې پرمختیا شاهد دی، خو دغه وده لا اوس هم په ډیره کښته کچه کې ځای لري. د بیلګې په توګه، د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره څه ناڅه ۳. ۱ میلیاردو امریکایي ډالره د نوې پانګه اچونې په توګه (پرته د مخابراتو د سوداګرۍ له شرکتونو څخه) په تیرو دوو کالو کې راجستر کړې دي، خو یوازې یوه برخه د دغو ژمنو څخه تر اوسه ورکړل شوې ده. برسیره پردې، په داسې حال کې چې د داخلي محصولاتولپار د پانګه اچونې حسابونه څه ناڅه په سلو کې ۲۲ دي، خو د دغې پانګه اچونې لویه برخه د عامه پانګه اچونې له لیارې، چې د نړیوالې مرستې له خوا تمویلیږي جوړیږي.

څه ناڅه په سلو کې ۵۰ پانګه اچونه، چې د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداری له خوا تصویب شوې ده، په ودانولو او د ساختماني توکو په برخه کې لګول کیږي. ښاغلي سید محمود، د نړیوال بانک د خصوصي سکتور د پرمختیا کار پوه او د راپور مسئول مدیر داسې وویل: دغه فیصدي ورښیي چې د مرستو زیاته برخه په ودانولو او د ښستیزو جوړښتونو د بیا ودانولو په برخه کې لګول کیږي. د افغانستان په چاپیریال کې، چې له خطر څخه ډک دی، بهرنۍ پانګه اچونې د بیاودانولو هغه دولتي پروژې غوره ګڼي، کومې چې د تمویل کوونکو هیوادونو له خوا تمویلیږي، ځکه هغوی کولای شي چې د هغو له لیارې په چټکه توګه خپلې پانګې په اوږدمهاله شرایطو د تولید شویو اجناسو لپاره د مارکیټونو د رامنځ ته کولوله په وسیله ترلاسه کړي.

لنډه داچې راپور د دولت د کاري ظرفیت د ښه والي په برخه کې ټینګار کوي، ترڅو وکړای شي د خصوصي سکتور مسائل تحلیل او د خصوصي سکتور د پرمختیا لپاره پالیسۍ او پروګرامونه رامنځ ته او په عمل کې پلې کړي. ښاغلي ساميول منزلی مایمبو،د نړیوال بانک د مالي سکتور لوړ رتبه کار پوه او د راپور مسئول مدیر داسې وویل: متشبثین د سوداګرۍ بیلابیلو خدمتونو ته اړتیا لري، تر څو هغوی سره د عملیاتو، ودې او د خطرونو د اداري په برخه کې مرسته وشي. دغه خدمتونه د خصوصي سکتور له خوا په ډیره ښه توګه برابریږي، خو دولت باید یوه منظمه پالیسي او چوکاټ رامنځ ته کړي، تر څو د خصوصي سکتور ثبت او راجستر آسانه شي .

د نړیوال بانك د کارونو په هکله نورو معلوماتو لپاره دغه انترنیتي پاڼه وګورئ:
http://www.worldbank.org.af